## د افغانستان شاهي نظامونو د جزايي تقنين سرچينې

ليکونکی: فيض الله اسحق زی

**لنډيز**

که څه هم جرم په انسانی ټولنه کې يا نامطلوب فعل دی خو کچه يې په هيڅ مهال کې هم صفر ته نده ټيټه شوې. دولتونه اړ شوي تر څو د دې نامطلوبه پديدې پر وړاندې لاس په کار شي او د مخنيوي لاری يې په جزايی قوانينو کې په ګوته کړې.

د افغانستان شاهی نظامونو چې له احمدشاه ابدالي را پيل کيږي او تر اعليحضرت محمد ظاهر شاه پورې دوام مومي، د جرم پر وړاندې پخپلو جزايی قوانينو کې غبرګون ښودلی. په ځينو مواردو کې ځانګړي جزايی قوانين نافذ شوي او ځينو مواردو کې بيا د جرم په وړاندې مجازات د پاچا د شفاهی حکم پر اساس پلې شوي دي. د افغانستان لومړی جزا قانون د احمد شاه ابدالي د حاکميت په دوره کې د فتوی احمدشاهی تر سرليک لاندې نافذ شو او بيا په تعقيب يې د امير شير علی خان د حاکميت په دوره کې تشريح الجرايم نافذ شو. امير امان الله خان دې برخه کې وړاندې ولاړ اساسی قانون او نظامنامې يې توشيح کړې او محمد ظاهر شاه د حاکميت دوره کې تقنين ماډرنيزم لور ته ولاړ.

شاهی نظامونو کې د تقنين، ځانګړي ډول جزايی تقنين کې اسلامی شريعت په ټوله کې او حنفی فقه په ځانګړي ډول د جزايی تقنين سياست منبع وه. په څنګ کې ورسره د خلکو عرف او شاهی فرمانونه هم د جزايی تقنين د سرچينو په توګه ور ډېر شول او د اعليحضرت محمدظاهر شاه د حاکميت د دورې جزايی تقنين بيا د بشر د حقونو د نړيوالي اعلاميې سره هم تر يو حده همغږې درلودل.

**بنسټيز اصطلاحات**

شاهی نظامونه، تقنينی جزايی سياست، د تقنينی جزايی سياست سرچينې

### د افغانستان په شاهی نظامونو کې د جزايی تقنين سرچينې

دلته به بحث پر دې موضوع کوو چې د شاهي نظامونو جزايي قوانين پر کومو سرچينو او منابعو استوار ول ؟ يا هم په جزايي قانون جوړونه کې له کومو منابعو څخه کار اخستل کېده؟ آيا يوازې اسلامي شريعت پلی کېده که نور موضوعه قوانين هم نافذ وو؟ که موضوعه قوانين هم پلی کېدل د دې قوانينو منابع څه وو؟

که خبره د احمدشاهي دور څخه را وسپړونو غوره به وي چې د ميرغلام محمد غبار له افغانستان در مسير تاريخ څخه يې را پيل کړو. نوموړی په خپل کتاب کې کاږي چې د احمدشاه ابدالي امپراطوری په مرکز او ولايتونو کې شرعي محکمې در لودلې[1]. د غبار تاريخ د روايت پربنسټ، چې محکمې شتون درلود نو حتماً قوانين هم موجود ول خو دا چې نوموړی د محکمې ترڅنګ د شرعی محکمې يادونه کوي نو روښانه ده چې دا ډول محکمو کې به، قضاياوې د اسلامي شريعت پر بنسټ فيصله کېدې. همدارنګه ښاغلی غبار زياتوي چې، احمدشاه بابا به د هغه قوانينو څخه چې پخپله يې نافذ کړی وو، پخپله هم پيروی کوله او د مجازاتو په توګه يې د انسان مُثله منع ګرځولې وه [2]. روښانه ده چې د مقتول د جسد مُثله کول په اسلامي شريعت کې منع دي . پس، د احمدشاه بابا له لوري د دا ډول تقنينی فرمان ملاک يا منبع اسلامی شريعت دی. تر دې ځايه خو موضوع حل ده. خو دويمه خبره يې چې احمد شاه بابا د هغه قوانينو چې پخپله يې نافذ کړي وو پيروي کوله، د بحث وړ ده او د بحث غوښنه برخه هم دا ده چې دا کوم ډول قوانين وو؟ مونږ همدې پوښتنې ته د ځواب په لټه کې يو او ورسته له هغې نه د يادو قوانينو ملاک يا سرچېنې په ګوته کوو.

اکاديميسن ابراهيم عطايي په خپل کتاب (د افغانستان پر معاصر تاريخ يوه لنډه کتنه) کې د فرير(د History of Afghanistan مؤلف) له قوله کاږي چې"د احمدشاه د انتخاب په جرګه کې پريکړه وشوه چې د دولت

---

[1] غبار، غلامحمد، افغانستان در مسير تاريخ، مرکز نشر انقلاب با همکاری جمهوری، چاپ چهارم، بهار ۱۳۶۸، ۳۵۸ مخونه.
[2] هماغه.

لپاره دي پر شريعت بنا د قوانينو يوه مجموعه تدوين شي، دا كار وشو، خو نه په تفصيل او ددغه وخت د احكامو يوه مجموعه چې فتاواى احمدشاهي نومېږي جوړه شوه او اوس هم شته، دا اثر په پښتو دى[3]". د فتاواى احمدشاهي د كتاب په متن او يا هم پښتی باندې د دې قانون د تصويب نېټه نده ذكر شوې خو دا قانون په بشپړ ډول پر اسلامی شريعت ولاړ دی. فتاواى احمدشاهی پر مختلفو كتابونو، بابونو او مسئلو وېشل شوې ده. هر كتاب يې بيا باب لری او باب يې هم مسلې لري. هره مسئله يې د قرانكريم آيت او نبوي احاديثو ترڅنګ د مختلفو فقهاؤ لکه امام ابو حنيفه (رح)، امام احمد (رح)، امام ابويوسف (رح)، امام شافعی (رح) او داسې نورو د نظرياتو پر مټ ثابت شوي دي . پر دې اساس ويلی شو چې د فتاواى احمدشاهي اساس او بنسټ اسلامي شريعت دی خو مطلق حنفي فقه نه ده.[4]

كله چې خبره د احمدشاه بابا د ځوی تيمور شاه واكمنې ته رسېږي نو موضوع د عزيز الدين وكيلي پوپلزي له درة الزمان فی تاريخ شاه زمان له تاريخ څخه را پيل كوو. نوموړی پخپل كتاب كې كاږي چې ملا فيض الله خان قوم دولتشاهي د تيمورشاه د عربي استاد او د نوموړي د واكمنۍ په دوره كې د هرات د شرعي محكې قاضي وو او د قاضي القضات رتبه يې درلوده[5] له دې مأخذ څخه هم دا څرګندېږي چې، د تيمور شاه په واكمنۍ كې شرعي محكمې شتون درلود. عزيزالدين وكيلي د خپلو پورتنيو خبرو په ادامه كې ليكي چې، شاه زمان بيا د اسدالله خان مومند د قتل په جرم كې فيض الله خان محبوس كړ او دهغه د جايداد د ضبط حكم يې هم وكړ،[6] دلته موضوع يو څه وړاندې ځي او خبره د حبس او دمالونود ضبط را پورته كېږي، خو دا بيا ځانته څېړنه غواړي چې آيا حبس او ضبط په اسلامي شريعت كې اساس لری او كنه؟ په هر حال، دلته هم جزايي موضوعات يا د اسلامي شريعت پر مبنا حل وفصل كېږي او يا هم د پاچا په شفاهي امر سره. كه موضوع د شرعي محكمې لخوا حل و فصل كېږي موضوع روښانه وي خو كله چې مجازات د پاچا شفاهي امر پر بنسټ پلي كېږي، زمونږ د دې موضوع سره تړاو پيدا كوي او د همدې امر د تقنين ملاک يا منبع لټوو. كه وګورو د اسلام په جزايي سياست كې د تعزيري مجازاتو واک له اولوالامر سره دی او اولوالامر كولای شي چې په تعزيري جرايمو مرتكب شخص په تعزيري مجازاتو محكوم كړي .

د عزيزالدين وكيلي د تاريخ په حواله چې، شاه زمان د همايون د سترګو ايستلو امر وركړ او د همايون نور ملګري چې د دراني قبيلې پورې اړوند وو په حبس محكوم كړل،[7] عزيزالدين مخ په وړاندې ليكي چې په ۱۲۱۱ هـ.ق كال كې د پنجاب معترض مسلمانان او هندوان دوكانداران چې د پنجاب د سكهانو دتنبه پخاطر د نوموړی د ور رسيدلو پر مهال يې دوكانونه تړلی وو، اهل هنودو باندې جزيه ولګوله،[8] دلته بيا دوه قسمه نورو مجازاتو يادونه شوې، يو سترګی ايستل دويم جزيه. قاضی عطاء الله بياپخپل كتاب يانې د پښتنو تاريخ كې ليكی چې په ۱۲۱۳ هـ.ق كال كندهار كې ۱۳ تنو سردارانو د شاه زمان له واكه د لېرې كولو او د بهرنيو چارو د وزير سردار رحمت الله خان د وژلو دسيسه طرحه كړې وه، د دسيسې تر افشا كيدو وروسته، شاه زمان د نوموړو د سر پرې كولو او د خلكو د عبرت لپاره درې ورځې په عام محضر كې د ځړولو امر وكړ[9]. قاضی عطاءالله زياتوی چې شامحمود د شا زمان د سترګو د ايستلو حكم وكړ،[10] او د ۱۲۱۸ هـ.ق كال ربيع الثانی مياشت كې بيا شاه شجاع د شاه محمود سترګی و ايستلې[11]. ملا عاشق شينواری يې شاه محمود ته د شاه زمان د سپارلو په قضيه كی د توپ خولې ته وتړه او جرمي شريكان يی محبوس كړل.[12] تر دې ځايه سرپرې كول، توپ خولي ته تړل، د سترګو ايستل او ديته ورته مجازاتو نه يادونه كولای شو. دياودنې وړ ده چې دا ټول مجازات د وخت حاكمانو د شفاهي فرمانونو پر بنسټ تطبيقول نه د محاكمو پر حكم. كچيرې په لنډ ډول ووايو چې، له تيمورشاه نه را پيل تر امير شير علی خان پورې د جزايي تقنين په ډګر كې

[3] عطايي، اكاد يميسن ابراهيم، د افغانستان پر معاصر تاريخ يوه لنډه كتنه ،بنګاه انتشارات ميوند، سبتا كتابخانه، ۱۳۸۲ هـ.ش كال.
[4] دا كتاب د اقغانستان د علومو د اكاډمی په كتابتون كې شته. ليكوال
[5]وكيلی فوفلزايي، عزيزالدين، درة الزمان فی تاريخ شاه زمان، د چاپ نيټه ۱۳۳۷ هـ.ش كال، ۳۱ مخ.
[6] هماغه، درة الزمان فی تاريخ شاه زمان ، ۳۱ مخ
[7] هماغه، درة الزمان فی تاريخ شاه زمان ، ۷۱ مخ
[8] هماغه، درة الزمان فی تاريخ شاه زمان، ، ۸۳ مخ
[9] قاضي عطاء الله خان، د پښتنو تاريخ، ۱۲۸-۱۳۲ مخونه
[10] هماغه، د پښتنو تاريخ ، ۱۸۲ مخ
[11] هماغه، د پښتنو تاريخ ، ۲۱۷-۲۱۸ مخونه
[12] هماغه، د پښتنو تاريخ ، ۲۲۰ مخ

هیڅ داسې د پام وړ او لوی  کار ندی شوی. چې دلته پرې بحث وکړو او یا هم شاید زما لاس نه وي ور رسېدلی.

 د نظام قضایي  افغانستان تر عنوان لاندې مقالې پر بنسټ، امیر شیرعلی خان د  خپل حاکمیت په دوره کې (**۱۲۷۹-۱۲۹۵هـ ق**) د نظم او ډسپلین په موخه او همدارنګه د جرمونو  مخنیوي  په پار یې د قاضی عبدالقادر چې په قاضی قادر باندې مشهور وو، د فتاوای امیری یا تشریح الجرایم تر عنوان لاندې د قوانینو یوه ټولګه چې فقهي  اساس یی درلود رامنځته کړه.[13] ما هڅه وکړه خو د قوانینو دې ټولګی ته می لاس ونه رسېد خو چونکه د پورتنۍ مقالې   په حواله،  تشریح الجرایم فقهي  اساس درلود نو پر همدې بنسټ ویلای شو چې د امیر شیر علی خان د واکمنۍ د دورې د تقنین ملاک هم اسلامي  شریعت و. محمدجان خان الکوزی د امیر عبدالرحمن خان په امر اساس القضات تأالیف کړ، چې په افغانستان کې یې تر ډېره بریده   د محتوی له مخې د لومړنیو جزایي  قوانینو څخه ګڼلای شو. چې ځینو  مواردو  یې  مدني  او سوداګریز  احکام هم لرل . د اساس القضات د تقنین مبنا یواځې اسلامی شریعت نه دی. سره د دې چې د ځینو قواعدو حواله یې په حدیث شریف ، آیت شریف او یا هم په فقهی قاعده ورکړې ده، د بېلګې په ډول،په اتلسمه قاعده کې د شرح درالمختار ذکر راغلی دی، خو په ځینو  مواردو کې یې  د پاچا د فرمان یادونه هم شوې ده. د بېلګی په توګه د اساس القضات څلورمه قاعده کې د قاضی لخوا د ډالۍ اخستلو اړوند عمومی قاعده ذکر شوی ده،  چې قاضی له څلورو کسانو څخه ډالی قبلولی شی خو د پاچا د فرمان پر اساس چې لازم الاجرا دی یواځې د پاچا او له نږدې محرم څخه یې قبلولی شي.[14]د امیر عبدالرحمن خان دوره کې په لومړی ځل د پاچا تقنیني فرمان د تقنین د ملاک په توګه ذکر کیږي که څه هم تر عبدالرحمن خان وړاندې نورو پاچاهانو هم تقنیني جزایي  فرمانونه صادرکړي  دي  خو هغه فرمانونه منحصر په یوه جزایي  قضیه پورې وو، خو د اساس القضات په پورتنۍ څلورمه قاعده کې  د امیر  عبدالرحمن خان د فرمان یادونه په جزایي تقنیني سیاست کې د یو اصل په توګه منل شوی وو.

تر عبدالرحمن خان وروسته د هغه د زوی امیر حبیب الله د واکمنۍ دوره پیلیږي  چې تاریخونه دا دوره ۱۸ کاله شمېري. په دې دوره کې سراج الاحکام فی معاملات الاسلام په ۱۳۲۷ هـ.ق کال کې تدوین  شو.  د نظام قضایی افغانستان تر عنوان لاندې خپرې شوې مقالې پر بنسټ د سراج الاحکام لومړی ټوک د اداب القضات تر عنوان لاندې  او نور ټوکونه یې کتاب الشهادت، کتاب الوکالت، کتاب الحواله، کتاب الکفاله او کتاب الدعوی تر عناوینو  لاندې تدوین شوي  وو[15] . د سراج الحکام په مقدمه کې لیکل شوي  چې دا کتاب په څلویښتو بابونو کې تنظیم شوی، کتاب القاضي ، کتاب الدعوی او کتاب الوکالت چې لاسرسی ورته لرو  دا په ګوته کوي  چې یادو کتابونو کې  یواځې پر حنفي  فقه باندی اکتفاءهم نه ده شوې،  بلکې په ټوله کې  جزایي  موضوعات  پراسلامی شریعت ولاړ دي  چې د شافعی او نورو مذاهبو نظریات هم په پام کې نیول شوي دي، او د  هري موضوع حواله  یې  پرمختلفو  فقهی کتابونو ورکړې ده.  له سراج الحکام نه جوتیږي چې د دې دورې تقنین هم یواځې پر اسلامی شریعت ولاړ و خو ټوله اتکاء پر حنفي  فقهي  باندې نه وه.

تر حبیب الله خان را وروسته د خپلواکۍ د اتل غازی امان الله خان ځلانده دوره پیلیږ ي.امان الله خان له نړۍ سره د افغانستان د سیال کولو هوډ درلود او عملاً یې  پردې چارې  لاس پورې کړی وو. نوموړي  د لومړي ځل لپاره اساسي  نظامنامه د افغانستان دلوړدولت ترسرلیک  لاندې  د اوسني  دور په حقوقي  اصطلاح اساسی قانون تصویب کړ. دې اساسي  نظامنامې ۷۳ مادې درلودلې او په ۲۱ مه ماده کې یې راغلی وو  (په عدلیه محکمه کې ټول عرضونه، دادونه سم له شریعته سره په قاعده د حقوقی او جزائي محکمو فیصله کیږي)[16]. د نظامنامې ۷۲ مه ماده زموږ د همدې بحث موضوع نوره هم روښانه کوي چې داسې صراحت لري:  (په وقت کې  د جوړولو د نظامنامو عرف او عادات د رعیتو او اقتضا د وقت او زمانې خصوصاً  ساتنه د شریعت د حکمو په خورا ښه تحقیق سره کاته کیږي) [17]. نظامنامه په ډاګه کوي  چې په محکمو کې حکمونه د اسلامی شریعت مطابق صادریږي  خو ۷۲ ماده یې بیا د تقنین ملاک په ګوته کوی چې په  هغه دوره  کې د اسلامي شریعت سره سم د خلکو عرف هم د تقنین د ملاک په توګه منل شوی وو. تر نظامنامې  وړاندې هیڅ داسې

---

[13] د لا زیاتو معلوماتو لپاره د سترې محکمې ویب پاڼه   په لاندی لنک باندی کتلی شي.
http://old.supremecourt.gov.af/fa/page/620

[14]  د اساس القضات څلورمی قاعدې ته د رجوع وشي.

[15] http://old.supremecourt.gov.af/fa/page/620

[16]  اساسی نظامنامه د افغانستان د لوړ دولت ، ۲۱ ماده.

[17] هماغه ،۷۲ ماده.

تقنيني سند نه ترسترګو کيږي چې په قانوني شکل د خلکو عرف د تقنين د ملاک يا منبع په حيث قبول کړي.
د نظامنامې د جزايي عمومي لومړۍ قاعده حکم کوی چې.. (... ټول هغه چه په دی نظامنامه کښې دی، سم له روښانه شرع د محمدی (ص)، او برابر له پاک مذهب د حنفي ،او بنا په قوي مفتي بها روايتونو سره دی).[18] د نظامنامې د ياد حکم سره سم د تقنين ملاک اسلامي شريعت او په ځانګړې توګه حنفي فقه ده. د همدې نظامنامې پنځلسمه قاعده بيا پخپله د پاچا فرمان د جزايي تقنين د ملاک په توګه وړاندی کوي، ياده ماده حکم کوی چې (صورت او شان د جزا د تعزيري د وژلو، له حضوره د پادشاهی څخه صادريږی، او په منځ د منظوری د هغه اعلام کښې چه حکم د وژلو په کښې ليکل شوی دی د اشرف پادشاهی له خوا ظاهره بيان او اراده کاوه شي). د پورته قاعدې له حکم څخه ښکاري چې خپله د پاچا ذات د تقنين مرجع وو. يانې پاچا واک درلود چې په تعزيري جرمونو کې د شخص د مجازاتو اړوند حکم صادر کړي.

د نظامنامې د تعزيراتو برخه ټول هغه جرمونه او مجازات دي چې د دولت له لوري د جرم او مجرم د حالاتو په پام کې نيولو سره ترتيب شوی دي. او د تقنين ملاک يې هم تر ډيره بريده پر فقهي فتوی ګانو ولاړ دی چې د فتوی امانيه تر سرليک لاندی شتون درلود.

فتوای امانيه چې د کابل په لويه جرګه کې په ۱۳۰۳ هـ.ل کال د چنګاښ مياشتي په ۲۰ مه نېټه د پنجشنبې ورځې څخه بيا دهمدغه کال د زمري مياشتی تر نهمي نېټې چې پنجشنبه ورځ کېدله پوری دوام درلود، تصويب شوه.[19] فتوی امانيه هم په بشپړ ډول پر حنفي فقهي باندې ولاړه ده. دبېلګی په توګه د تعزير بالمال يا د اوسنۍ حقوقی اصطلاح په اعتبار سره نغدي جزا موضوع سره د جرګې ګډونکونکي علماء مشکل درلود او استدلال يې کاوه چې تعزير بالمال د امام ابوحنيفه (رح) په نزد جايز نده او د امام ابويوسف (رح) نظر چې تعزير بالمال ته يې جواز ورکړی ضعيف دی او د دليل په ډول يې د ر المختار او بحرالرائق کتابونه ذکر کړيدي.

تمسک القضات الامانيه د غازی امان الله خان د وخت يو نافذ قانون و چې دويمه برخه يې د جرم او جزا اړوند وه. د تمسک القضات الامانيه تر هری مسئلی (مادې ) لاندې د فقهي کتاب نوم هم د مأخذ په توګه ذکر شويدی تر څو واضح وي چې د مسئلې اساس اسلامي شريعت دی. دبېلګی په توګه کله چې د تمسک القضات الامانيه لومړی مسئله (ماده) حد تعريفوي نو تر تعريف لاندې هدايه د مأخذ په توګه قوس کې ورته ليکي او دويمه مسئله يې چې د حدودو ډولونه ذکر کوي بيا قاضيخان کتاب د مأخذ په توګه په قوس کې دننه تر مسئلې لاندې ليکي. تمسک القضات څرنګه چې د کتاب پر پښتی هم ليکل شوي، د جزايي محکمو لپاره کړنلاره يا لارښوود دی چې قضات به په جزايي موضوعاتو البته د حدودو مستوجبو جرايمو کې يې پر بنسټ حکم صادره وی . که څه هم د تمسک القضات الامانيه د دويمې برخې آخري څېرکی متفرقه احکام دي خو د متفرقه احکامو هرې مسئلې لاندې هم د فقهي مهم کتابونه د مأ خذ په توګه ذکر شوي دي.

همدارنګه د جزايي عمومي نظامنامې پنځمه قاعده چې کله تعزيري مجازات تعريفو ي د اولوالامر اختيار د مجازاتو په تعيين کې په ګوته کوي. ياده ماده حکم کوي چې" هغه جرمونه چې تعزير لازموي ،هغه بد کارونه دي چه کونکي لره يی اندازه کړی شوې او معلومه جزا نشته، بلکې فکر او رأی د اولوالامر او وکيل د اولوالامر ته مفوض او سپارلې شوې ده چه په راز راز درجواو قسماقسم مرتبوسره مجرمينو کسانو لره، پس له کتلو د حال د مجرم، په وقت د پيښيدلو د جرم کښ جزا معلومه کړی، لکه ترخه ويل، او په تروه وچلی سره کتل، او د غوږونو سولول، او د قاضی تر وره پوری بيول، او بندی کول...[20] نظامنامه د جزای عمومي، د فتوای امانيه غوندې تر هرې مسئلې لاندې د کوم فقهي کتاب حواله نلري او د مقنن له لوري ډول ډول مجازات چې پورته ذکر شول په پام کې نيول شوي.

تر غازي امان الله خان را وروسته د حبيب الله کلکاني د حاکميت نهه مياشتنی دوره پيلېږ ي په نوموړې دوره کې د افغانستان د تقنين ډګر سوړ اوکوم ځانګړی کار نه ترسره کېږي. نادر شاه د حبيب الله کلکاني زمامداری ته د پای ټکی ږدي او په ۱۳۱۰ هـ.ل کال کې اساسي اصول د لوړ دولت د افغانستان تر عنوان

[18] نظامنامه د جزای عمومی، ۱ قاعده.
[19] http://www.afghan-german.net/upload/Tahlilha_PDF/kazem_sa_loyjerga_1303_21.pdf
[20] نظامنامه د جزای عمومی، ۵ قاعده.

لاندې (اساسی قانون) تصویبوي . د دې اصولنامې د اوومې مادې پر بنسټ د شریعت د روح سره سم د تعزیري مجازاتو بخښل او کمول د پاچا له حقوقو څخه ګڼل کېده.[21] ۸۷ مادې يې حکم کاوه چې محکمو کې فيصلې د اسلامی شریعت د حنفی فقهې سره سم فيصله کېږي.[22] دلته هم تقنين پر اسلامي شريعت او په ځانګړي توګه حنفي فقه باندې استوار وو.

د افغانستان د وروستي پاچا محمدظاهر شاه په واکمنی کې د ۱۳۱۰ هـ.ل کال (اساسي اصولنامه د افغانستان د لوړ دولت) نافده وه تر څو په ۱۳۴۳هـ.ل کال کې نوی اساسي قانون تصویب شو. د همدې اساسي قانون د ۶۴ مې مادې د حکم سره سم هیڅ قانون نشي کولای چې د اسلام د اساساتو او نورو ارزښتونو سره چې پدې اساسي قانون کې ذکر شوی دي، په ټکر کې واقع شي .[23] د پورته ذکر شوې مادې له حکم څخه په ډاګه کېږي چې دلته هم د تقنين ملاک اسلامي شريعت و خو نور ارزښتونه چې پورته ذکر شوې مادې يې يادونه کړې وه بحث ته لار پرانيزي. سياسي ټولنې جوړول، د بيان آزادي ، د کار حق او دېته ورته نور هغه موضوعات وو چې ياد اساسي قانون د ارزښتونو په توګه ذکر کړی وو. د يادو موضوعاتو يادونه، خبره د بشری حقونو لور ته ورکاږي چې د تقنين ملاک ګرځېدلي . د دې اساسی قانون ځيني موارد د بشرد حقونو دنړيوالي اعلاميې د موادو انعکاس ورکونکی وو، د بېلګې په توګه د ياد اساسي قانون ۲۶ مې مادې، آزادی د انسان خدای (ج) ورکړی حق ګڼلی وو[24] همدارنګه د بشر حقونو د نړيوالی اعلاميې دريمی او څلورمې مادې هم آزادی د انسان حق ګڼلی دی، چې دا يې يوه بېلګه وه. که خبرې ته د خپل تحقيق د موضوع سره ربط ورکړو نو نور جزايي موارد هم موندلی شو چې هم د ۱۳۴۳ هـ.ل کال په اساسي قانون کې تسجيل شوی وو او هم د بشرد حقونو په نړيواله اعلاميه کې شتون لري. د بشر د حقونو نړيوالي اعلاميې ربړونه غندلي او نامطلوب عمل يې ګڼلی دی او د ۱۳۴۳ هـ.ل کال اساسي قانون ۲۶ مې مادې هم ربړونه منع ګرځولي وه. د ربړونی ترڅنګ، د ياد اساسي قانون ۲۶ مه ماده په جزايي برخه کې ډېر داسې موارد لري چې د بشري حقونو د نړيوالي اعلاميې سره همغږې دي. د يادولو ده چې د ياد اساسی قانون ۶۹ مې مادې بيا د تقنين د ملاک په توګه د اسلامي شريعت ساحه تر يو بريده را تنګه کړې وه او د قانون د تعريف ترڅنګ يې که په کومه برخه کې قانون شتون ونلری نو بيا حنفي فقهې د قانون حيثيت درلود[25]، مانا داچې حنفي فقه پخپل ذات کې يو رسمي او نافذ قانون دی.

- **د بحث پايله**

د پورتني بحث څخه په ډاګه کېږي چې د افغانستان د شاهی نظامونو د جنايي تقنينی سياستونو ملاک تر ډېره بريده اسلامي شريعت وو. دا سې موارد هم له پورته بحث څخه تر سترګو کېږي چې يوازې حنفي فقه د تقنين ملاک ګرځېدلی خو بعضی مواردو کې بيا اسلامي شريعت په ټوليزه توګه ذکر شوې چې د حنفي فقهې ترڅنګ نورې فقهي او مذاهب هم په بر کې نيسي.

د امير عبدالرحمان خان په دوره کې خو بيا شاهي فرمان په جزايي تقنين کې د يو اصل په توګه منل شوی او د وخت په تېرېدلو سره په تقنين کې د خلکو عرف هم د اسلامي شريعت ترڅنګ د تقنين ملاک ګرځېدلی چې د امير امان الله خان د وخت اساسنامه يې ښه بېلګه ده او کله چې خبره د ظاهر شاه دور ته رسېږي نو بيا د بشری حقونو د نړيوالي اعلاميې ارزښتونه په تقنيني ډګر کې له ورايه ښکاري. که څه هم د بشري حقونو د نړيوالی اعلاميې ځينی ارزښتونه لکه د برائت الزمي اصل د دې اعلاميې تر خپرېدو وړاندې د افغانستان په جزايي تقنيني سياست کې په پام کې نيول شوی وو. نو په لنډ ډول ويلای شو چې د افغانستان د شاهي نظامونو د تقنيني جنايي سياست منابع عبارت وو له:

۱ - اسلامي شريعت.
۲ - د خلکو عرف.
۳ - شاهي تقنيني فرمانونه.
۴ - د بشري حقونو نړيواله اعلاميه.

---

21 اساسی اصول د لوړ دولت د افغانستان، ۷ ماده.
22 هماغه، ۸۷ ماده.
23 د ۱۳۴۳ هـ.ل کال اساسي قانون، ۶۴ ماده.
24 هماغه، ۲۶ ماده،.
25 هماغه ، ۶۹ ماده.

## سرچينې

1 - غبار، غلامحمد، افغانستان در مسير تاريخ، مرکز نشر انقلاب با همکاری جمهوری، چاپ چهارم، بهار ۱۳۶۸کال
2 - عطايي، اکاد يميسن ابراهيم، د افغانستان پر معاصر تاريخ يوه لنډه کتنه ،بنګاه انتشارات ميوند، سبتا کتابخانه، ۱۳۸۲ هـجری.لمريز کال.
3 - وکيلی فوفلزايي، عزيزالدين، درة الزمان فی تاريخ شاه زمان، د چاپ نيټه ۱۳۳۷ هـ.ش کال
4 - قاضي عطاء الله خان، د پښتنو تاريخ، اداره اشاعت سرحد، قصه خوانی، پېښور، ۱۸۳۸ زېږيز کال
5 - اساس القضات، ۱۳۱۱ هجری لمريز کال
6 - اساسی نظامنامه د لوړ دولت د افغانستان ، ۱۳۰۵ هجری لمريز کال
7 - نظامنامه د جزای عمومی،۱۳۰۶ هجری لمريز کال
8 - اساسی اصول د لوړ دولت د افغانستان،۱۳۳۰ هجری لمريز کال
9 - کال اساسي قانون،۱۳۴۳ هجری لمريز کال